# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدين بوم و بر زنده يک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهيم از آن به که کشور به دشمن دهيم*

*www.afgazad.com* *afgazad@gmail.com*

| | |
|---|---|
| *سیاسی* | *Political* |


انجنير داؤد اڅک
۰۳ دسمبر ۲۰۲۴

## د افغانستان ملي سرود ته تاريخي او انتقادي کتنه

که څه هم چي اسلامي امارت د قوشتېپي او ټاپي په شان غټي او وړې پروژې پيل کړيدي، چي ځني ئې تکميل سوي او ځني ئې د اکمال په حال کي دي؛ خو بيا هم اکثره افغانان پر ډېرو شيانو د طالبانو څخه مرور دي. چي ملی سرود، ملي بيرغ، فردي ازادي، معارف ته عدم توجه، د نجونو د مکتبو او پوهنتونو تړل هغه څه دي چي طالبانو له منځه وړيدي او افغانان ئې بيرته احيا غواړي. ښېله شکه چي اسلامی امارت په انساني، اسلامي، افغاني او ملي اصولو مکلف دئ چي د اسلامي قوانينو مطابق هم معارف ته جدي توجه وکړي او سهولتونه ايجاد کړي، هم نجونو ته ښونځي او پوهنتونونه خلاص کړي او هم د ملي سرود په شان ټول ملي ارزښتونه بيرته احيا کړي. که نه، د تاريخ توري کندي ته به ولوېږي. اوس اصلي موضوع طالبان نه بلکه د ملي سرود تاريخچه او ملي والی دئ چي ملي سرود په افغانستان کي څومره مخينه لري او ښېل ملي سرودونه څومره ملي ول؟

نو راځئ چي په نوبت سره باندار پر وکړو.

### اول - تاريخي کتنه

زما د خپلي متعليمی په وخت کي ياديږي چي کله کله به په ځانګړو مراسمو کي په ښونځيو يا نورو رسمي محافلو کي د نجونو يا هلکانو او کله هم د نجونو او هلکانو په ګډو اوازو کي د ملي تراني په نامه څه ويل کېدل، دا چي څه ويل کېدل دا مي نه دي په ياد. امکان ډېر سته چي د مرحوم ظاهر شاه د وخت ترانه به ويل کېدل چي د اوسني ملي سرود مفهوم ئې درلود. خير اوس به راسو اصلي موضوع ته چي لومړی ملی ترانه څه وخت وويل سوه. زما د پلټني پر بنسټ بيلي ملي تراني يا سرودونه په بيلو وختو کي په لاندی ډول ويل سويدي:

الف - لومړئ ملي ترانه په ۱۹۲۶ ميلادي کال کي د غازی امان الله خان په وخت کی جوړه سوه چي د موسيقي يوه قطعه وه او شعرئې نه درلود. دغه ترانه په اماني ترانه سره هم يادېدل او اهنګ جوړونکی ئې رجب بيګ وو.

ب - وروسته په ۱۹۳۳ ميلادي کال د محمد نادرخان په وخت کي لنډه عسکري رژه يا مارش جوړ سو چي د ملي تراني په عوض په سلطنتي مراسمو کي تېرېدی.

ت - کله چي محمد ظاهر شاه پاچا سو نو وروسته په ۱۳۴۳ هش کال کي لومړی ترانه په فارسي ژبه د (سلام شاهي) په نامه جوړه سوه.

ټ - د شهيد داؤد خان د جمهوريت په وخت کي نوې ترانه يا ملي سرود جوړ سو.

ث - د خلق ديموكراتيک ګوند ملي سرود بلکل د نورو ملی ترانو سره متفاوت وو.

ج - کله چی مجاهدین په ۱۹۹۲ میلادي کي واک ته ورسېدل نو ملی سرود دوهم ځل په فارسي ژبه ولیکل او وویل سو.

چ - وروستئ د جمهوریت ملي سرود وو چی په ۲۰۰۶ میلادي کي تصويب سو.

**دوهم - انتقادي کتنه**

انتقادي کتنه په دې معنا چي لومړئ به نوموړي ملي تراني يا سرودونه په ډېر احترام سره د نقد په طلايي ترازو کي کښېږدو او بيا به ئي په پوره بې طرفي او صداقت سره د نداف په شان وشنو. څو معلومه سي چی نوموړي سرودونه رښتيا ملي ول، يا څومره ملي ول؟

ځکه چی ملی سرود بايد په يوه هيواد کي د ټولو قومونو، قشرونو او طبقو نمايندګي وکړي او د دوی د حقونو په دفاع کي ملي وحدت تمثيل کړي. که داسي نه وي يا ئي ملي جوهر کم وي معلومداره چي ملي سرود به نه وي يا به نيمچه ملي سرود وي. نو راځی چي د دې حساسي او مهمي موضوع د عيني او منصفانه سپړني، عادلانه او صميمانه قضاوت لپاره تر هر څه مخکي پر ملي کلمه باندي مکث وکړو.

ملي کلمه يا مفهوم صفت دئ چي د ملت څخه اخيستل سويدی، او د صفت دنده دا ده چي نسبت يو ځای يا شي ته رسوي. يعني موږ چي ملي کلمه کاروو بايد يوه شي يا نوم ته مخاطب سو څو چي نوموړی صفت هغه ته اړوند کړو. نو کله چي يوه پديده يا مفهوم د ملي صفت واخلي هغه پديده يا مفهوم د فردي غالب څخه وزي، د خصوصي ملکيت څخه هم ازادي اخلي او په ملت يا د هغې ټولني په ټولو خلګو پوري اړه پيدا کوي. لکه ملي ګټي، ملی ارزښتونه او ملي افتخارات. معنا دا چي ملي مفهوم، ارزښت يا پديده د يوې ټولني په ټولو قومونو، قشرونو او طبقو پوري اړه لري بيله دې چي ښکارهنګ (کلتور)، مذهب، سمت، قوم يا ژبه په نظر کي ونيول سي.

دا دئ اوس به په نوبت سره نوموړي تراني يا سرودونه ولولو او بيا به ئي د زرګر په شان د عدالت پر سندان کښېږدو او څو ظريف انتقادي چکوشه به ئي ووهو څو چي ملي او طلايي جوهر ئي برملا سي.

- لومړئ ملي ترانه د شعر سره د محمد ظاهر شاه په وخت کی جوړه سوه چي د پاچا په وصف کي ويل کېدل. د تراني شاعر محمد مختار او اهنګ جوړونکی ئي محمد فرخ وو چي په لاندي ډول وه.

ای شاه غیور و مهربان ما - هستيم از جان مطيع شما

ما فرزندان تويیم - ما فدا کار تويیم

ای شاه ما - ای شاه ما

ای شاه ملت خواه ما

پورته ترانه ځکه ملی محتوا نلري چي د شاه يعني شخص په وصف کی ويل سوېده نه د ملت او ملي وحدت. خو په اخيره مصرع کي د ملي رنګ يو ځاځکی پر سويدی. هغه دا چي ظاهر شاه ملت خوا پاچا بلل سويدی. يعني يو ملي ټکی ئي پر اينسی دئ.

- دوهم ملي سرود د شهيد داؤد خان په وخت کي جوړ او وويل سو. عبدالرؤف بېنوا ئي شاعر او عبدالغفور برېښنا ئي اهنګ جوړونکی وو چي په لاندي ډول دئ.

څو چي دا مځکه اسمان وي – څو چی دا جهان ودان وي

څو چي ژوند پدې جهان وي – څو چي پاته يو افغان وي

تل به دا افغانستان وي - تل دي وي افغان ملت

تل دي وي جمهوريت - تل دي وي ملی وحدت

تل دي وي افغان ملت جمهوريت - تل دي وي افغان ملت جمهوريت

ملي وحدت ملي وحدت

پورته ملي سرود له ورايه معلوميږي چي د ناوکی په شان په ملي شال کي پیچلی او په ملي مفاهمو (افغان، ملت، افغان ملت، ملي وحدت، جمهوريت) باندي مالامال دی. محتوا ئي ملي ده او د ملي وحدت لپاره ليکل سوی او ويل سويدی. يعني ملي سرود دی.

- دريم ملي سرود وروسته له هغه جوړ سو چي د خلق ديموکراتيک گوند په ۱۳۵۷هش کال سياسي واک ته ورسېد. شاعر ئي سليمان لايق او اهنگ جوړونکی ئي جليل ځلاند وو چي په لاندي ډول دی.

گرم شه لا گرم شه ته يې مقدس لمره - ئې د ازادئ لمره ئې د نېکمرغئ لمره

موږ په توپانونو کي پرې کړه د بري لاره - هم د تورو شپو لاره هم د رڼايي لاره

سره د سربازئ لاره - پاکه د وروری لاره

دا انقلابي وطن اوس د کارگرانو دئ – دغه د زمرو ميراث اوس د بزگرانو دئ

تير سو د ستم دور وار د مزدورانو دئ

موږ په نړئ والو کي سوله او وروري غواړو – موږه زيار ايستونکو ته پراخه ازادي غواړو

موږ ورته ډوډئ غواړو، کور غواړو، کالي غواړو

پدې سرود کي ملی جوهر يا ملي رنگ نه ليدل کيږي. يعني دغه سرود ملي نه بلکه يو سياسي، گوندي او طبقاتي سرود دئ چي ټوله محتوا ئي انقلابي ده. مخکي حاکميت ئي ستمگر بللی دئ او طبقاتي تضاد له ورايه پکي ښکاري. معنا دا چي د يوې طبقي په وصف کي ويل سويدی نه د ټول ملت. افغانستان او ټول نعمتونه د يوې طبقي لپاره غواړي چی زحمتکښه طبقه ده. بدايه طبقه او متحدين ئي له ميدانه ايستلي دي. پدې صورت کي طبعي ده چي ټول ملت په غيږ کي نه نيسي. بل دا چي هيڅ يوه ملي کلمه يا ملي مفهوم هم نه ليدل کيږي بلکه د چپي ايديالوژئ پر بنسټ انترناسيونالیزم ته اشاره سوېده چي په نړئ والو کي وروري غواړي.

- څلورم ملي سرود د مجاهدينو ملی سرود وو چي دوهم ځل په فارسي ژبه وليکل او ولوستل سو. شاعر ئي داؤد فاراني او اهنگ جوړونکی ئي خليل شفته وو چی په لاندي ډول دئ.

قلعه اسلام قلب اسيا جاودان، ازاد خاک اريا – زادگاه قهرمانان بزرگ سنگر رزمنده مردان خدا

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

تيغ ايمانش به ميدان جهاد بند استبداد را از هم گسس – ملت ازاده افغانستان در جهان زنجير محکومان شکست

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

هر خط قرآن نظام ما بود پرچم ايمان به بام بود – هم صدا و همنوا و همزبان وحدت ملی مرام ما بود

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

شاد زی ازاد زی اباد زی ای وطن در نور قانون خدا – مشعل ازادگی را بر فراز مردم برگشته را شو رهنما

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

پدغه سرود کي هم ليدل کيږي چي تر ملي رنګ ئې ديني او حماسي رنګ ډېر دئ او د چپ ملي سرود په شان ئې خپل مخکنۍ حاکميت ظالم او جابر بللى دئ. ځکه د ازادئ کلمه څو ځله تکرار سوېده. خو په عين حال کي ئې لږ ملي رنګ هم پر پاشلی دئ. افغان ولس ئې ملت بللی دئ او برجسته کړې ئې ده چي زموږ مرام ملي وحدت دئ.

وروستۍ او د جمهوريت ملي سرود چی عبدالباري جهاني ئې شاعر او ببرک ويسا ئې اهنګ ساز دئ په لاندي ډول دئ.

دا وطن افغانسان دئ - دا عزت د هر افغان دئ

کور د سولي کور د توري – هر بچۍ ئې قهرمان دئ

دا وطن د ټولو کور دئ – د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو – د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب ګجر دي – پاميريان نورستانيان

براهوي دي قزلباش دي – هم ايماق هم پشه يان

دا هيواد به تل ځليږي – لکه لمر پر شنه اسمان

په سينه کي د اسيا به – لکه زړه وي جاودان

نوم د حق مو دئ رهبر وايو – الله اکبر وايو الله اکبر

تاسو وينئ چي دغه سرود هم ملي رنګ نلري خو برعکس قومي او ديني رنګ ئې ډېر ګاټه دئ. د مجاهدينو د ملي سرود کلمې پکښې تکرار سويدي او د ملي، ملت او ملي وحدت په شان مفاهيم او کلمې نه لري. اما برعکس د څو محدودو قومونو ياد پداسي حال کي سويدئ چي د ځينو څېړنو پر بنسټ په افغانستان کي ۲۳ قومه خو د ځينو ځېړنو پر بنسټ کابو۵۲ قومه ژوند کوي. نو دا به بې انصافي او غير ملي وي چی د هيواد په ملي سند کي يو معين تعداد قومونه ياد سي او نور شريف قومونه پاته وي. بله مهمه خبره دا چي د قومونو يادول په خپل زات کي ملي مفهوم يا ملی يوالی نفي کوي، او بدبختانه چي په عمل کي همداسي کېدل. موږ او تاسو وليدل پر ځای د دې چي تر طالبانو وروسته په کال ۲۰۰۱ ميلادي کي د ښايسته سالارئ پر اصل يو ملي او مترقي حکومت جوړ سي متآسفانه چي نوي استعمار د جمهوريت په نامه قومي حکومت جوړ او پر رنځېدلو او جنګ ځپلو افغانانو ئې تحميل کړ.

نوټ: د ملي سرود دايرةالمعارف ليکي چي د جمهوريت په ملي سرود کي د ځينو قومونو يادول د اساسي قانون حکم وو چی په ۲۰۰۶ ميلادي کال کي لويې جرګې تصويب کړ.

درنښت

۲۷ – ۱۱ - ۲۰۲۴